# دکښته والي احساس

پخوا ما د کابل په مجله کي ادبي او لساني او د ژبي په شاوخوا کي مضامين ليکل، مګر پسله دې غواړم چي کله کله د اجتماعياتو ځيني غټي غټي نکتې د پښتنو له پاره وليکم، او دا ليکونه به پر داسي خبرو مشتمل وي، کومي چي په اوسني ژوندانه کي زموږ په درد خوري.

د دې کرښو په تندي کي چي تاسو کوم عنوان ګورئ ښايي چي لومړی پلا به زموږ په اجتماعي ليکنو کي د څېړني له پاره غوره سوی وي او زما په خيال خو په اجتماعي اصلاحاتو کي هم د "ذلت احساس" لومړنی ګام دی.

ملتونه چي پر دنيا ژوند کوي، يا لوړ دي يا کښته، يا غښتلي دي يا کمزوره، يا مستقل دي يا مريي ! ځکه چي د ارتقاء خوا ته تګ او ځان لوړونه د بشر يوه فطري غريزه ده. نو ټول کښته او کمزوره او مريي ملتونه دا کوښښ کوي چي د لوړتيا پر لوري تګ وکړي، او ځانونه له سيالانو سره سم کړي.

نن ورځ چي پر دې دنيا کوم کښته او ناغښتلي ملتونه دي، ټول په يوه اوږده سعيه او جهد اخته دي، دوی د لوړتيا او آزادۍ له پاره متمادي زيارکاږي او تر وينو تويولو پوري لا هم ولاړ دي، د دوی زلمي ځانونه قربانوي، چي خپل ملت او خپل وطن لوړ او آزاد کاندي.

دغه د لوړتيا غوښتلو حرکت يو طبيعي حرکت دی. لوی خدای چي دا دنيا پيدا کړه "هره ورځ يې يو بېل شان ور وباخښه" ټول مخلوقات يې د ارتقاء پر لوري روان کړل. نو د ملتو په حيات کي هم تر ځينو اجتماعي قوانينو لاندي دغه د "ارتقاء حس" کار کوي او دوی خوځوي، او د سعي او عمل په داسي چارو کي اچوي، چي په پای کي د لوړتيا پر خوا رهي سي او دغه سفر او تګ په اجتماعي ابحاثو کي يو ډېر مهم او غوره بحث دی.

هغه وخت چي ځيني فطري او طبيعي سوابق يوه ټولنه او يو ولس له کښته والي څخه لوړتيا ته، او له ذلته عزت ته سوق کوي، نو د دغه "ارتقايي سير" له پاره ځيني ابتدايي عوامل او اسباب سته چي بېله دغو شيانو يوه جامعه د لوړتيا پر خوا تګ نه سي شروع کولای.

نن ورځ لکه په دنيا کي چي نور علوم او بشري معلومات لوړ سوي دي، او يو مثبت او علمي رنګ يې مونډلی دی، دغسي هم سوسيالوژي يعني د اجتماعياتو او ټولني پوهنه هم په علومو کي داخله سوې ده، او د اجتماع علماء او پوهان ځيني مثبت او لايتغيير اساسونه لري چي دغه پوهنه پر متکي ده.

له دغو اساسو څخه يو خورا قوي او مهم اصل دا دی چي "اجتماع" هم لکه ژوندي ذوات او مخلوقات د ژوندانه په نواميسو کي د نشوونما مختلفي دورې لري، او هره ټولنه دغه دورې خامخا طی کوي.

د ذلت او کښته والي او پستۍ دوره داسي ده لکه د هلکتوب وخت، چي بيا نو دغه جامعه شباب او ځوانۍ ته رسيږي، او بيا نو د ابن خلدون په تعبير د "هرم" يعني زوړتيا دورې ته رسيږي.

لکه يو وړوکی چي په طبيعي قوت او سايقه نشوونما کوي دغسي هم لومړنۍ او کښتي ټولني د نشوونما له پاره ځيني عوامل او ځيني قوتونه لري چي هم دغه شيان يې د ځوانۍ او شباب خوا ته بيايي.

د تاريخ په پاڼو کي موږ د ټولنو او ملتو په حيات کي دغه سوابق او د پيشرفت او نهضت عوامل ښه مونډلای سو، ډېري انساني ټولني دي چي په پېړيو پېړيو او کلو کلو د ذلت او خوارۍ او کښته والي په حالت کي وي، وروسته يوه دوره پر دوی راځي چي پوهيږي او خپل ذلت ته ملتفت کيږي. دوی ځان ته ګوري، او خپل

حالت د نورو ملتو له حاله سره مقایسه کوي.

دلته چي دوی وپوهېدل، چي موږ تر نورو پاته یو، او حالت مو د ذلت اوکښته توب دی، نو "یو حرکت" په دوی کي پیدا کیږي او دغه حرکت په اجتماعي ژوندانه کي ډېر مهم او قیمت دار دی.

دا حرکت کښته ملل د نهضت او لوړتیا خوا ته روانوي، او دوی په اجتماعي سیر کي بالآخر هغه ځای ته رسیږي، لکه نور ملل چي ور رسېدلي دي.

نو د یوه ملت له پاره د ارتقاء په سیر کي دا دورې راتلونکي دي او دوی به یې خامخا طی کوي :

- نهضت او لوړتیا
- حرکت
- د ذلت احساس
- ذلت اوکښته والی

دغه مراتب هر یو ځانته شروط او نور پوړونه لري، او ښایي چي د یوې جامعې مشران تل په ثاقب نظر او د عمل او سد په قوت لومړی د خپلي جامعې موقف په یوه کي د دغو پوړو تشخیص کاندي او وروسته نو په هغو شرطو او لوازمو خپله جامعه مخ پر لوړتیا روانه کړي.

د ملتو کارونه او د دوی سیر باید بې فکره او بې سنجشه نه وي، هر قدم چي اخلي باید په دې وپوهیږي چي موږ په کوم حال کي یو او چیري ځو؟ او د مقصد منزل موکومي خوا ته دی؟

په اجتماعي حیات کي کور کورانه تګ، جامعه په کوهي کي غوځاروي، د نېستۍ کډهل ته یې شوه کوي. باید په خلاصو سترګو سړی حرکت وکړي او خپل موقف او خپل منزل وټاکي.

اکثر ناپوه ملتونه په اجتماعي سیر او حرکت کي په یوه راز "غرور" اخته سي، دوی د "غرور" څپې هسي واخلي چي په دغو اجتماعي مواقفو کي د ځان موقف نه سي تشخیص کولای.

دا "غرور" یو اجتماعي مهلك مرض دی، خدای دي سړی له دې ناروغۍ ژغوري او هم له دې جهته دی چي تل اجتماعي پوهان او طبیبان له دغه مرضه خلك راګرځوي، تفاخر په انسابو او پلار و نیکه دغه اجتماعي مرض ډېروي، او میکروبونه یې داسي قوي کوي چي په پای کي یوه جامعه په خورا حسرتناك او مدهش مرګ اخته کوي.

اکثر کښته ملتونه او خواري جامعې چي د دغه "اجتماعي غرور" په بلاککړي سوي دي، بیا یې سر نه دی راپورته کړی، باید تل د ملتو پوهان او مشران دې نکتې ته ملتفت وي، چي جامعه په دغه مهلك مرض اخته نه کړي.

اوس دستي د دنیا پر مخ داسي ملتونه لیدل کیږي، چي دوی په "ماضي" فخر کوي او خپل "تاریخي افتخارات" پر ټوله دنیا مقدم بولي. مګر اجتماعي احوال یې ډېر وران دي او اوس هیڅ هم نه لري.

دوی د دې په عوض چي د خپل ذلت احساس وکړي، او د ځان د رنځ په چاره پسې سي، په ماضي فخر کوي، او په اجتماعي حیات کي ځانونه غولوي، یا په بل عبارت دغه "غرور د دوی سترګي ور ړندوي او کورټ په خپل عیب او ضرر نه پوهیږي. داسي ملتونه کورټ ترقي نه سي کولای . (فذرهم خوضهم یلعبون)

په اوسۍ دنیا کي موږ پښتانه هم یوه جامعه یو، او یو ملت ګڼل کیږو لکه ژوندانه چي د نورو ملتو پ رغاړه ځیني حیاتي او اجتماعي وظیفې اچولي دي، او باید د عقل او سنجش په سیوري کي رفتار وکړي، موږ هم باید سترګي وغړوو او تر هر څه لومړی خپل "اجتماعي موقف" تشخیص کړو.

موږ باید له "غروره" هم ځانونه وساتو، او تر حد زیات په ماضي پوري ځان ونه نښلوو، بلکه باید د خپل "اوس" په غم کي یو، او په دې پوه سو چي "اوس" څه باید وکړو؟

ماضي زموږ ده، او له موږه يې څوك نه سي اخيستلای، زه نه وايم چې ماضي نو بالکل هېره کړئ، بلك دا وايم چې په ماضي کي غلو او ډېر غرقېدل بايد موږ له اوسني کاره ونه باسي، او په دې غلطي کي مو نه واچوي چې له اوسنيو ضرورياتو څخه غافل سو او يوازي "د ماضي افتخارات" د ځان له پاره کافي وبولو. دا هم بايد په غور سره تشخيص کاندو، چې د ماضي روښانول او په ماضي مفاخرو پسي سعی کول، د ملتو د حيات د کوم وخت وظيفه ده؟ او څه وخت بايد دوی دغو خبرو ته توجه وکړي؟

د يوه مريض له پاره د ده د "اوسني حال" غذا او دوا تر ښو کالو او ګېڼې ضروري ده، مريض ته سړی دوا ورکوي وروسته به جوړ سي، نو بيا که ښه کالي اوګېڼه او فېشن وي نو ښه په ايسي.

د يوه ملت له پاره هم ډېر شيان د دوا او غذا کيفيت لري او ډېر نور شيان وروستني تزئينات دي او زما په عقيده موږ اوس دستي بايد هغه کارونه وکړو، چې زموږ ژوند او حيات پوري تړلی دی. د تزئيناتو وخت لا ولاړ دی.

بايد دا خبره په ښه ډول حل کړو چې د دنيا د نورو ملتو په قطار کي موږ د اکثرو تر شا پاته يو، او زموږ د ژوندانه ډېر لوازم او اجتماعي ضروريات خورا کم دي او دغه ټول په دغه عصر کي تهيه کول غواړي.

موږ بايد په خلاصو سترګو وګورو، او د خپل کښته والي احساس وکړو او دا خبره بېله شرمه د ټولو غوږو ته ورسوو چې موږ کښته يو.

دغه احساس چې عام سي نو به په "اجتماعي حرکت" د لوړتيا خوا ته په موږ ټولو کي پيدا سي، او په دغه حرکت کي برکت دی. موږ په پای کي د مقصد منزل ته رسوي او که اوس لا هم موږ په دې ونه پوهېږو چې کښته يو، او د "غرور" په مهلك مرض اخته سو، نو زه وايم چې زمانه موږ ته انتظار نه کوي، او[1] :

دواسيه محمل ليل و نهار ميګذرد
بهوش باش که ايام کار می ګـــذرد

---

[1]) کابل مجله، ۱۳۲۵ ل کال، ۷ مه ګڼه، ۵۴۲ _ ۵۴٤ مخونه.